

د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب

کلنی راپور ۲۰۱۹

فبروری ۲۰۲۰ | کابل، افغانستان

# د راپور لنډیز

وسله والې جګړې لا اوس هم په افغانستان کې په ۲۰۱۹ کال کې ملکي وګړو ته د دروند زیان اړول جاري ساتلي، چې یوناما د پرلپسې شپږو کلونو لپاره هر کال له ۱۰۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات ثبتوي. په ۲۰۰۹ کال کې له کوم وخت راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړل، دغې اداری له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات مستند کړي، چې له ۳۵۰۰۰ څخه زیات وژل شوي او له ۶۵۰۰۰ څخه زیات نور يې ټپي شوي. له دې سره سره د جګړې اغیز د افرادو، کورنیو او ټولنو فیزیکي، رواني، ټولنیزې او اقتصادي ښېرازۍ ته د اوښتي پراخ او دوامدار زیان په پام کې نیولو سره، له شمیرو ها خوا تیریږي.

یوناما د وسله والې جګړې له امله ۱۰۳۹۲ ملکي تلفات ( ۳۴۰۳ مړه او ۶۹۸۹ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵ سلنه ښيي او د ۲۰۱۳ کال راهیسې د ملکي تلفاتو تر ټولو کم تلفات دي.[1] . د عراق او شام اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې له امله اوښتي تلفاتو کې کمښت ، د ملکي تلفاتو کې د عمومي کموالي لامل شوی. په وسله واله جګړه کې د نورو ښکېلو ډلو په ځانګړې ډول د طالبانو او نړیوال امنیتي ځواکونو له خوا ملکي تلفات زیات شوي .

د کال په اوږدو کې په دوحه کې د طالبانو او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د مذاکراتو پرمهال د پرمختګونو او شاتګونو سره سم، په تاوتریخوالو کې د پام وړ تغیر او تبدیل رامنځ ته شوي. د کال لومړی نیمه يې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوايي بریدونو او د افغان



## د تاکتیکونو پر بنسټ د ملکي وګړو مړګ ژوبله ۲۰۰۹ - ۲۰۱۹




ځواکونو په ځانګړي ډول د ملي امنيت د رياست د ځانګړو ځواکونو له خوا د چاڼيزو عملياتو له پراخ کمپاين سره مله وه. دغو عملياتو د کال په نيمايي کې د دولت ضد عناصرو[2] په پرتله دولت پلوه ځواکونو[3] ته د ولسي وګړو منسوب شويو وژنو د زياتوالي لامل شوی، دا يو داسې تمايل دی چې يوناما تر ۲۰۱۹ کال پخوا نه و مستند کړی.[4] د دغه تمايل په تعقيب د کال دريمه ربع تاوتريخجنه ربع وه او د ۲۰۰۹ کال راهيسې چې يوناما په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پيل کړي او د بلې هرې ربع په پرتله په دې کې يې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمير ثبت کړی.[5] دغه زياتوالی زياتره د دولت ضد عناصرو په ځانګړي ډول د طالبانو له خوا د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو د انتحاري او غير انتحاري بريدونو او د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي له امله په ملکي تلفاتو کې د يوه چټک زياتوالي له امله رامنځ ته شوی. د کال په څلورمه ربع کې د ملکي تلفاتو د ۲۰۱۸ کال[6] کې د ورته مودې په پرتله کمښت سره سره، ۲۰۱۹ کال د هوايي بريدونو او چاڼيزو عملياتو او د غير انتحاري تعبيه شويو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو د ريکاډ کچې شمير په درلودو سره پای ته ورسيد چې د ۲۰۱۵ کال راهيسې بېساري وه.

په ۲۰۱۹ کال کې، دولت ضد عناصر بيا هم د زياترو ملکي تلفاتو (۶۲ سلنه) لامل شوي. په ۲۰۱۹ کال کې دواړو انتحاري او غير انتحاري بريدونو کې د دوي د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو کاروني په خورا لوړه کچه دوام درلود؛ په دواړو ډولو انتحاري او غير انتحاري بريدونو کې د دغو توکو کارونه د ملکي تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوی، چې د

ټولو تلفاتو د ۴۲ سلنې لامل شوی. یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د انتحاري او غیر انتحاري بریدونو له امله ۴۳۳۶ ملکي تلفات (۸۸۵ مړه او ۳۴۵۱ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله شپږ سلنه کموالی وړاندې کوي. له دې سره سره، د طالبانو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو دواړو تکتیکونو ته په مشخص ډول منسوب شوي ملکي تلفات هغه لوړې کچې ته رسیدلي، چې تر دې دمه یوناما یوازې په یوه کال کې نه دي ثبت کړي.

په ۲۰۱۹ کال کې دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بریدونه، د ډله ییزو بریدونو په ګډون، د ۲۰۷۸ ملکي تلفاتو (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۶ سلنه کموالي په نښه کوي. که څه هم دغه کموالی د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې له خوا په دغو بریدونو کې د پام وړ کموالي له امله رامنځ ته شوی.[7] له بلې خوا په ۲۰۱۹ کې د طالبانو له خوا ځانمرګي بریدونه د ډله ییزو بریدونو په ګډون، د پام وړ زیات شوي، څرنګه چې د هغوي له خوا په لویو موټرو کې ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ("ټرک بم") بریدونه تر سره شوي.[8]

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د دواړو طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د غیر انتحاري بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې ناڅاپه زیاتوالی مستند کړی. د دغو وسیلو بریدونه د ۲۲۵۸ ملکي تلفاتو (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالي وړاندې کوي. خو لا اوس هم طالبان د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې په پرتله د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د درې برابره زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. طالبان د تعبیه شویو فشاري ماینونه چې د پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوي ، د دې کارونې ته ادامه ورکړې چې د زیات اندیښنې وړه ده . یوناما داسې پېښې مستندې کړې په کومو کې چې د طالبانو له خوا دغه ځای پر ځای شوې وسیلې یواځې د یوه ماشوم د وزن برابر فشار سره چاودیدلې دي. یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوي چې تعبیه شوي فشار ي چاودیدونکي توکي چې د قرباني په وسیله فعالیږي او اصلاً بې توپیره دي، کارونه یې په سملاسي ډول ودروئ او خپلې هغه پخوانۍ ژمنې رعایت کړئ چې په خپلو عملیاتو کې به د پرسونل ضد ماینونه نه کاروي.

په ۲۰۱۹ کال کې ځمکنۍ نښتې، په ځانګړي ډول د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل پاتې شوی. یوناما د ۲۰۱۳ کال راهیسې د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمیر مستند کړی. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، په افغانستان کې ځمکنیو نښتو ۳۰۵۷ ملکي تلفات (۷۶۳ مړه او ۲۲۹۴ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله

۱۰ سلنه کموالی او د دوامدار عمومي کموالي دريم کال په ډاګه کوي. د ځمکنيو ښتو له امله په ملکي تلفاتو کې عمومي کموالی په بنسټيز ډول د مستقيمو ډزو له امله په ملکي تلفاتو کې د ۳۷ سلنه کموالي له امله رامنځ ته شوی، او د غير مستقيمو ډزو له امله په ملکي تلفاتو کې د شپږ سلنه زياتوالي له امله په جزئي ډول بيرته لوړ شوی. د تيرو کلونو په خلاف چيرې چې دولت ضد عناصر د ځمکنيو ښتو له امله د زياتو ملکي تلفاتو لامل شوي، په ۲۰۱۹ کال کې، دولت پلوه ځواکونه د ورته تکتيک په کاروني سره د ملکي تلفاتو د نږدې عين شمير لامل شوی دی، په ځانګړي ډول د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د غير مستقيمو ډزو له امله په ملکي تلفاتو کې لږ زياتوالي لامل شوی . د ځمکنيو ښتو له امله ملکي تلفات د دولت پلوه ځواکونو له خوا د عمومي ۲۵ سلنه زياتوالي په پرتله د دولت ضد عناصرو له خوا ۱۱ سلنه راکم شوي.

د ځانګړې اندېښنې وړ ده، چې دولت ضد عناصرو د انتحاري او غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو په ګډون د مختلفو تکتيکونو په کاروني سره په عمدي ډول د ولسي وګړو په نښه کول جاري ساتلي. يوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ۲۰۱۸ په پرتله ۳۱ سلنه کموالي مستند کړي، کوم چې په اساسي ډول د ولسي وګړو په وړاندې د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې له خوا د ډله ييزو بريدونو په ګډون د ځانمرګو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شوي. د ولسي وګړو په وړاندې د هغو عمدي بريدونو له امله ملکي تلفات چې يوازې طالبانو ته منسوب شوي شپږ سلنه راکم شوي، په داسې حال کې هغه بريدونه چې د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې ته منسوب شوي ۴۸ سلنه راکم شوي. د عمومي کموالي سره سره، يوناما په ځانګړي ډول د هغو عمدي بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د زياتوالي په اړه چې قاضيان او څارنوالان، روغتيايي کارکوونکي او مرستندويه کارمندان په نښه کوي او د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې له خوا د شيعه مذهبو مسلمانانو په وړاندې چې ډيری يې هزاره توکمه دي د دوامدارو بريدونو په اړه اندېښمنه ده. په دغو بريدونو کې د اګست پر ۱۷ نېټه د کال تر ټولو خونړۍ پېښه هم شامله ده - بريد د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې له خوا د زياترو شيعه مذهبه مسلمانو ګډونوالو د واده پر مراسمو د فرقه ييزې انګيزې لرونکی ځانمرګي بريد و، په کوم کې چې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۹۱ ولسي وګړي ووژل شول او ۱۴۳ نور ټپي شول. يوناما همدارنګه د بشري حقونو پر مدافعينو او مرستندويه کارمندانو ځوک چې د پرمختګ او بشري حقونو د خونديتوب لپاره کار کوي، د طالبانو له خوا د بريدونو په اړه قهريدلې، لکه د مۍ په ۸ نېټه په کابل ښار کې د کاونټر پارټ انټرنيشل پر موسسې بريد، د کوم له امله چې د پاملرنې نړيواله موسسه هم اغيزمنه شوه، او د سپتمبر مياشت کې په غور ولايت کې د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کميسيون څخه د بشري حقونو د مدافع عبد الصمد اميري تښتونه او وژنه شامل ده.

په ۲۰۱۸ کال کې د پارلماني ټاکنو پرمهال د ملکیانو او ملکي شیانو په وړاندې د بریدونو د هېښوونکي جریان په تعقیب، یوناما په ۲۰۱۹ کال کې تر ولسمشریزو ټاکنو په مخکې موده کې او ټاکنو پر مهال د رایه اچوونکو، د کمپاین د کارمندانو، نوماندانو او نورو اشخاصو په وړاندې چې په ټاکنیزه پروسه کې ښکیل وو، بریدونه مستند کړي، چې زیاتره یې د طالبانو له خوا ترسره شوي. د ټاکنو پر ورځ په ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو پراخې کارونې د ماشومانو په ګډون ولسي وګړي په خپلو کورونو کې په نښه کړي، په داسې حال کې چې په انتخاباتي مرکزونو کې یا هغوي ته څېرمه تعبیه شوي چاودیدونکي توکي رایه اچوونکي له ستر ګواښ سره مخ کړي وو. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکیان یا ملکي شیان په نښه کوي، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کیږي کوم چې ښایي جنګي جرمونه وشمېرل شي.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا نهه داسې پېښې مستند کړي، چې د هغوي د موازي عدلي جوړښتونو د پریکړو د عملي کولو په پلمه د اعدامونو په ګډون، په ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو لاس پورې کول شامل دي. یوناما پر دې ټینګار کوي چې دغه ډول سزاګانې له بشري حقونو څخه سرغړونه او تېری ګڼل کیږي، او د اعدامونو په څیر سختې سزاګانې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کیږي کومې چې ښایي جنګي جرمونه وشمېرل شي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړه او ۳۴۵ ټپیان) مستند کړي، چې د دولت پلوه ځواکونو له هوايي بریدونو څخه په ملکي تلفاتو کې په ټولیزه توګه لږ څه زیاتوالی او د دوامدار زیاتوالي پنځم پرلپسې کال په ډاګه کوي، چې په ملکي تلفاتو کې د ریکارډ د لوړې کچې لامل شوي.[10] هوايي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه اړولي، چې زیاتره (۷۲ سلنه) یې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي. سره له دې چې افغان هوايي ځواک د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر راهیسې د شپنیو هوايي بریدونو د ترسره کولو ظرفیت ترلاسه کړی، له کوم سره چې هغوي ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو د زیاتیدو شونتیا هم مله وه. یوناما هغوي ته په دغه ډول منسوب شویو تلفاتو کې کموالی مستند کړي.[11]

یوناما په ځانګړي ډول په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو (USFOR-A) له خوا په عمدي ډول د هغو اشخاصو د په نښه کولو پالیسي ګانو په اړه اندېښمنه ده، څوک چې نه په مستقیم ډول په شخړو کې ښکیل وو او نه یې په کومه وسله واله ډله کې دوامداره جګړه ییزې کړنې ترسره کولې، لکه د هغو اشخاصو په نښه کول چا چې ښایي له طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې سره مالي مرسته کوله.[12] یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي، هغه کسان چې له وسله والې مخالفې ډلې سره مرسته کوي - په سیاسي، مالي یا بل ډول - خو په منظم وسله واله ډله کې کوم دوامدار جګړه ییز فعالیت نه لري، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د

وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کيږي.[13] د ملکيانو په څير، هغوي له بريدونو خوندي دي، تر هغې چې هغوي په جګړو کې په مستقيم ډول ګډون نه وي کړی.[14] که چيرې دغه افراد د جنايي کړنو په ترسره کولو کې ښکيل وي، پر وړاندې يې تر ټولو مناسب غبرګون د قانون انفاذ دی، نه نظامي اقدام.

يوناما د ملي امنيت د رياست د ځانګړو ځواکونو، د خوست ژغورنې د ځواک، او دغه راز په پکتيکا کې د "شاهين ځواکونو" په نامه د دولت پلوه وسله والې ډلې، کومې ته چې په لومړي ځل يوناما د ملکي تلفاتو منسوبول په ۲۰۱۹ کې پيل کړي، له خوا د چاپيزو عملياتو ("شپنيو چاپو") پر مهال د قوې د کارونې له امله ملکيانو ته د لوړې کچې زيان ثبتول جاري ساتلي. يوناما د ملکي وګړو د عمدي وژنو يو شمير داسې پېښې مستندې کړي، کومې چې د دغو چاپيزو عملياتو پرمهال له کومې محکمې پرته پر اعدامونو/وژنو تمامې شوي.

ښځې او ماشومان لا اوس هم په نامتناسب ډول له وسله والې جګړې څخه کړيږي. يوناما د ښځو ۱۲۰۲ تلفات ( ۳۴۵ مړې او ۸۵۷ ټپيان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله څلور سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د انتحاري او غير انتحاري ګډو بريدونو د کارونې له امله د ښځو په تلفاتو کې هغه کموالي بيرته زيات شوي کوم چې د هوايي بريدونو او ځمکنيو نښتو له امله رامنځ ته شوي. يوناما د ماشومانو ۳۱۴۹ تلفات ( ۸۷۴ مړه او ۲۲۷۵ ټپيان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله درې سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. د ښځو تلفات

**په جګړه کې د ښکېلو ډلو له خوا د ملکي وګړو مرګ ژوبله ۲۰۱۹ کال**



د عمومي ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه او ماشومان د ټولو تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي.

ماشومان لا اوس هم د طالبانو، افغان ملي امنيتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا استخدام او کارول کيږي. په داسې حال کې چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د افغان ملي پوليسو د استخدام په مرکزونو کې د ماشومانو د خونديتوب  واحدونو د کار له لارې د ماشومانو د رسمي استخدام د مخنيوي په برخه کې پرمختګ شوی، د ماشومانو کارونه، په ځانګړې ډول په چيک پوستونو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو له خوا، لا اوس هم يوه ستونزه ګڼل کيږي، چې په دې کې د جنسي موخو لپاره د هلکانو د کارونې کړنې هم دي.[15] که څه هم د يوناما له خوا د ګمارنې او کارونې زياتره تصديق شوې قضيې طالبانو ته منسوب شوي. يوناما د دې يادونه کوي چې د طالبانو ملکي تلفاتو د مخنيوي او سمع شکاياتو کميسيون په ۲۰۱۹ کال کې د طالبانو د قوماندانانو له خوا د ماشومانو د ګمارنې په برخه کې ځينې مثبت ګامونه پورته کړي، او يوناما د دغه کار د مخنيوي لپاره د هڅوي د لا زيات اقداماتو غوښتونکې ده.

د جزا په تعديل شوي قانون کې د *بچه بازۍ*[16] (پر هلکانو د جنسي تيري او استثمار يو ډول) د جرم ګڼلو سره سره، يوناما لا اوس هم د دغه ډول جرمونو د ارتکاب راپورونه ترلاسه کوي، چې زياتره يې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا ترسره شوي. يوناما د بچه بازۍ يوازې د يوې قضيې په اړه معلومات لري چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د جزا د تعديل شوي قانون د اړوندو احکامو سره سم په بريالي ډول تر عدلي تعقيب لاندې نيول شوې.[17] د چوپتيا، شرم او د قرباني د ګرم ګڼلو کلتور د احتساب هڅې د پام وړ ننګونو سره مخ کوي.

 په افغانستان کې پر ښوونځيو، روغتونونو، ښوونکو، روغتيايي کارمندانو د بريدونو او دغه راز د تهديدونو او ګواښونو له امله، د ټولو خلکو په تېره بيا د ماشومانو دا وړتيا چې  زده کړو ته د لاس رسي حق د پوهنې او جسمي او رواني روغتيا د ترلاسه کيدو وړ تر ټولو لوړ معيار له خپلو بشري حقونو څخه برخمن شي، زيانمنه شوې. په ۲۰۱۹ کال کې، د ولسمشريزو ټاکنو پرمهال د ښوونځيو او روغتونو په وړاندې بريدونه ترسره شوي کله چې هغه د انتخاباتي مرکزونو په څير کارول کيدل. يوناما د کال په اوږدو کې د طالبانو له خوا د ترسره شويو لوړ شمير نا متناسبو او بې توپيره بريدونو په اړه اندېښمنه ده، کومو چې ښوونځي، روغتونونه زيانمن کړي او په داخل کې يې زده کوونکي او ناروغان متضرر کړي.

يوناما دغه راز د دولت پلوه ځواکونو له خوا په دغو مرکزونو کې د چاپېزو عملياتو له امله د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول  او روغتيايي کارمندانو باندې د اغيز په اړه اندېښمنه ده. [18]

## د ملکي تلفاتو منسوبونه

يوناما زياتره ملکي تلفات -۶۲ سلنه - دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۴۷ سلنه يې طالبانو، ۱۲ سلنه يې د

عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې او درې سلنه نورو نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې.

په ۲۰۱۹ کال کې دولت پلوه ځواکونو د ۲۸ سلنه ملکي تلفاتو لامل وو - ۱۶ سلنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا، تقریباً اته سلنه له نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا، تقریباً دوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا او د درې سلنې کم له نا معلومو ګڼو دولت پلوه ځواکونو له خوا اوښتي.[19]

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو تبادله چې کوم مشخص لوري ته نه شي منسوب کیدای، د اووه سلنه ملکي تلفاتو لامل شوي. پاکستان نظامي ځواکونو ته د پولې په اوږدو کې منسوب شوي پېښې تر یوې سلنې د کمو ملکي تلفات لامل شوي.[20] د ملکي تلفاتو پاتې دوه سلنه په عمده ډول له جګړې څخه د هغو پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، چې کومې مشخص لورې ته نه شوای منسوب کیدای.

**دولت ضد عناصر**

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۶۴۴۷ ملکي تلفات (۱۶۶۸ مړه او ۴۷۷۹ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله اته سلنه کموالی په ډاګه کوي.[21] د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې تر کم فعالیت وروسته، دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات د کال په درېیمه ربعه کې لوړ شوي، په تېره بیا د طالبانو د بریدونو له امله.

یوناما طالبانو ته ۴۹۰۴ ملکي تلفات (۱۳۰۱ مړه او ۳۶۰۳ ټپیان) منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او د ټولو ملکي تلفاتو ۴۷ سلنه جوړوي.[22] یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې ته ۱۲۲۳ ملکي تلفات (۳۰۹ مړه او ۹۱۴ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۴۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي او د ټولو ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه جوړوي.[23] یوناما ۳۲۰ ملکي تلفات (۵۸ مړه او ۲۶۲ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د ۲۰۱۸ کال په خلاف، په ۲۰۱۹ کال کې د تعبیه شویو غیر انتحاري چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفات د ځانمرګو بریدونو په پایله کې له رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو څخه زیات شوي، او د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي تلفاتو د کال مخکښ لامل ګڼل کیده. غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ۲۲۵۸ ملکي تلفاتو (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. ځانمرګي بریدونه دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل و، چې د ۲۰۷۸ ملکي تلفاتو (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) لامل شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۶ سلنه کموالی وړاندې کوي، چې په عمده ډول د عراق او شام د

اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د ۷۶ سلنه کموالي له امله رامنځ ته شوي، په داسې حال کې چې د طالبانو د ځانمرګو بریدونو له امله ملکي تلفات ۱۳۳ سلنه لوړ شوي. یوناما د ځمکنیو نښتو له امله دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې ۱۱ سلنه کموالی مستند کړی، چې ۱۲۲۹ ملکي تلفات (۲۶۱ مړه او ۹۶۸ ټپیان) یې اړولي.

**دولت پلوه ځواکونه**

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ۲۹۳۳ ملکي تلفات (۱۴۷۳ مړه او ۱۴۶۰ ټپیان) مستند کړي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۱۳ سلنه زیاتوالی ښيي او د ۲۰۰۹ کال راهیسې، له کوم وخت نه چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړل، دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه په ډاګه کوي. دغه زیاتوالی عمدتاً د ځمکنیو نښتو په زمینه کې په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي او دغه راز د هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د لړ څه عمومي زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی، کوم چې د ریکارډ تر حده په لوړه کچه پاتې وو. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات د کال په لومړیو دریو ربعو کې ۳۳ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي، چې په تعقیب یې په څلورمه ربع کې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۳۹ سلنه کموالي رامنځ ته شوی. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي زیاتره ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو (۴۳ سلنه)، هوایي بریدونو (۳۶ سلنه) او چاپېزو عملیاتو (۱۲ سلنه) پرمهال رامنځ ته شوي. هوايي بریدونه دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي مړینو مخکښ لامل ګڼل کیده، چې هغوي ته د منسوب شویو مړینو نږدې نیمه یې هغه جوړوي.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۶۸۲ ملکي تلفات (۶۸۰ مړه او ۱۰۰۲ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله لږ څه زیاتوالی په ډاګه کوي.[24] یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۷۸۶ ملکي تلفات (۵۵۹ مړه او ۲۲۷ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ۱۸۴ ملکي تلفات ( ۱۰۲ مړه او ۸۲ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله دوه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، چې لا اوس هم په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي تلفاتو د شمیر په پرتله د پام وړ دوه برابره زیات دی.

دولت پلوه ځواکونه د ځمکنیو نښتو پرمهال د ۱۲۶۰ ملکي تلفاتو (۳۶۳ مړه او ۸۹۷ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي، او دوامدار دوه کلن کموالي بیرته معکوسوي. یوناما د هوايي بریدونو له امله ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړه او ۳۴۵ ټپیان) مستند کړي. [25] د دغو له جملې، ۷۵۵ ملکي تلفات (۵۴۶ مړه او ۲۰۹ ټپیان) یې نړیوالو نظامي ځواکونو، ۲۳۱ ملکي تلفات (۱۱۳ مړه او ۱۱۸ ټپیان) افغان هوایي ځواک او پاتې ۵۹ ملکي تلفات (۴۱ مړه او ۱۸ ټپیان) یې نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. چاپېز عملیات د ۳۶۰ ملکي تلفاتو (۲۷۸ مړه او ۸۲ ټپیان) لامل

شوې چې درې برخې يې د ملي امنيت د رياست د ځانګړو ځواکونو، شاهين ځواکونو او د خوست ژغورنې د ځواک له خوا رامنځ ته شوي، چې له ټولو سره يې د نړيوالو فعالينو له خوا ملاتړ کيږي. [26]

**سپارښتنې**

يوناما په شخړه کې ښکيلو خوواو ته لاندې سپارښتنې وړاندې کوي څو د ملکيانو د ساتنې، د ملکي تلفاتو په مخنيوي او د بشرپالنې نړيوال قانون او د بشري حقونو تر نړيوال قانون لاندې د خپلو مکلفيتونو په ادا کولو کې د هغوی د هڅو ملاتړ وکړي:

**ټول دولت ضد عناصر:**

د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د ټولو ډولونو د بې توپيره او بې تناسبه کارونه په ځانګړې ډول په ګڼ ميشتو سيمو کې ودروي.

- په ګڼ ميشتو سيمو کې د (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) غير مستقيم کارونه ودروي.
- په سملاسي ډول، د دولت د ملکي اداري غړو، د بشري حقونو مدافعينو، قاضيانو، خبريالانو، څارنوالانو د ښوونځيو ښوونکو، لومړني مرسته رسوونکو او د مرستندويه کارکوونکو په ګډون د ملکيانو عمدي په نښه کول ودروي.
- د روغتيايي خدماتو د ودانيو، د پوليو د واکسيناتورانو او کمپاينرانو په ګډون د روغتيايي کارمندانو په وړاندې ټول بريدونه او ګواښونه ودروئ: د ښوونځيو د پوهنيزو کارکوونکو پر ضد ټول بريدونه ودروئ او ډاډمن کړئ چې د نظامي عملياتو له امله ښوونې او روزنې ته د ماشومانو لاسرسي له خنډ سره نه مخ کيږي.
- په سملاسي توګه پر اشخاصو د بې رحمانه، غير انساني، له سپکاوي ډک چلند او سزاګانو وضع کول ودروئ.

***طالبان***

- ډاډ تر لاسه کړئ چې ټولې لارښوونې او حکمونه د بشرپالنې نړيوال قانون سره مطابقت لري، په ځانګړې ډول د احتياط، تميز، او د تناسب له اصلونو سره، او ټولو هغو کسانو سره دې محاسبه وکړي هغه چې بې توپيره بريدونه تر سره کوي او يا داسې بريدونه تر سره کوي چې په عمدي ډول ملکي کسان يا ملکي شيان په نښه کوي. د ملکي لپاره هغه تعريف وکاروئ چې د بشرپالنې له نړيوال قانون سره په مطابقت کې وي؛ د طالبانو د مشرتابه هغه اعلامېې پلې کړئ چې د ملکيانو او د ملکي ګڼ ميشتو سيمو پرضد بريدونه منع کوي؛ هغه لارښوونې پلې کړئ چې د طالبانو غړو ته امر کوي چې له ملکي تلفاتو مخنيوی او له هغو ډډه وکړي؛ او د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د طالبانو پاليسي خپره کړي.

- په سملاسي ډول د هغو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونې ودروي کوم چې د قرباني له خوا فعاله کېږي لکه فشاري تعبیه شوي چاودیدونکي ماینونه کوم چې د پرسونل ضد ماین په څیر کار کوي، او هغه پخوانۍ ژمنې چې د پرسونل ضد ماینونو د کارولو د منع کولو په اړه یې کړي، رعایت کړي.
- د هغو لارښوونو د پلي کولو لپاره اقدامات غښتلی کړي چې د ماشومانو ګمارنه او استخدام منع کوي او له هغو قوماندانانو سره احتساب یقیني کړي څوک چې ماشومان ګماري او کاروي.
- قوماندانانو ته د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او د بشري حقونو نورو مدافعینو چې په افغانستان کې د ټولو وګړو د حقونو لپاره کار کوي، د خوندي وضعیت په اړه سملاسي او روښانې لارښوونې ورکړي، څو هغوی وکولای شي خپل کار پرته له کوم خنډ او زیان سر ته ورسوي.
- د رسنیو پر ضد ټول هغه ګواښونه او بریدونه او هر بل عمل ودروي چې د مبطوعاتو او د بیان ازادي اغیزمنه کوي.
- له نظامي کمیسیون سره د خپلو اړیکو په ګډون، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د سمع شکایاتو د کمیسیون کار پیاوړی کړي او د بشرپالنې نړیوال قانون په اړه خپلو جنګیالیو ته د روزنې د برابرولو په شمول د پیښو د څیړنو سربیره د ملکي تلفاتو پر مخنیوي خپل تمرکز زیات کړي.

**ټول دولت پلوه ځواکونه:**

- د مؤثریت د ارزونې او د بهتره کیدو لپاره د سپارښتنو د رامنځته کولو په موخه د ژوند طریقو د ارزونو په ګډون، د هدف د تثبیتولو په طرزالعملونو او د احتیاطی تدبیرونو په برخه کې پروخت او هر اړخیزه بیاکتنه تر سره کړي، په ځانګړی ډول د هوایي عملیاتو د تر سره کولو په زمینه.
- له عملیاتو وروسته د ملکي تلفاتو د تورونو په صورت کې بیاکتنې او څیړنې پیاوړي کړي، څو د زیان پراخ ډولونه په ګوته او عملیاتی کړنې بهتره او احتساب یقیني کړي.

د ملکي تلفاتو په پیښو کې د څیړنې شفافیت زیات کړي او پایلې له ملکي قربانیانو او د هغوي له کورنیو سره شریکې کړي؛ دا یقیني کړي چې د ګالل شوي زیان په مقابل کې د خسارې کافي، اغیزمن او ګړندي جبران برابر شوي. او د اغیزمن شویو خلکو د باور بیا جوړولو لپاره د خسارې د جبران اضافي غیر مالي ډولونه لکه بخښنه غوښتنه هم په پام کې ونیسي.

- د خوست د ژغورنې ځواک او د شاهین د ځواکونو په ګډون، زر تر زره ټولې ناقانونه وسله واله ډلې او ملیشې منحل او بې وسلې کړي، یا یې غړي په رسمي ډول په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د چاڼ تر یوه پیاوړې کړندود وروسته ځای پر ځای کړي. د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په تړاو شفافیت او احتساب زیات کړي، کوم چې د حکومت د رسمي قوماندې له سلسله مراتبو څخه بهر ښکاري او باید د نړیوالو ځواکونو سره همغږي شي؛ او د دوی له خوا له محکمې پرته اعدامونو په ګډون د بشري حقونو د نړیوال قانون ټولې ترسره شوې سرغړونې او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د تیري ټول تورونه د احتساب د یقیني کولو په موخه وڅیړي.
- په ګڼ میشتو سیمو کې د (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) او نورو چاودیدونکو توکو چې پراخه سیمه اغیزمنه کوي، غیر مستقیم کارونه ودروي؛ د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو د تاکتیکي لارښوونو، د جګړې د اصولو او نورو طرز العملونو طرحه کول او بهتر کول جاري وساتي.
- د ساتنې او امنیت د اوسنیو اقداماتو د تقویه کولو، د مخنیوونکو میکانیزمونو غښتلي کولو او د متضرر شویو ټولنو سره د غوره همغږۍ او اړیکو د یقیني کولو په ګډون، د مذهبي مشرانو او دغه راز له فرقه ییزو انګیزه لرونکو بریدونو څخه د شیعه مذهبه لړکیو د ساتنې لپاره هڅې زیاتې کړي.
- د تعبیه شویو چاودیدنکو توکو د استحصال په ګډون، د دغو توکو د له منځه وړلو لپاره د مؤثرو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت تقویه کول جاري وساتي، او دا یقیني کړي چې دولت د دې لپاره ټولې اړینې سرچینې ځانګړې کوي څو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ضد د ملي ستراتیژي بشپړ تطبیق یقیني کړي.

د عمر د معلوملو او چاڼ طرز العملونه تقویه کړي او په افغان ملي پولیسو کې د ماشومانو د ساتنې د واحدونو چارې لا پسې پراخې کړي څو په امنیتي پوستو کې فعاله او ګټوره څارنه ځای کړي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو له خوا په جګړه ییزو او نا جګړه ییزو نقشونو کې د ماشومانو د کارونې د پیښو مخنیوی وکړي؛ د جزا په تعدیل شوې کود کې د بچه بازۍ اړوند احکام تنفیذ او د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي د جرمونو لپاره احتساب یقیني کړي.

## ***نړیوال نظامي ځواکونه***

### ***الف) په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه***

- د ملکي تلفاتو د راکمولو ټیم ته کافي سرچینې ځانګړې کړي څو دوی د دې جوګه کړي چې د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه لا ژورې او پر وخت ارزونې تر سره کړي او د خپل ټیم دندې پراخه کړي څو د هغوي لپاره د زده شویو درسونو په پلې کولو کې د برخه اخیستو زمینه برابره شي.
- د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره، په تیره بیا د هغو هوايي بریدونو په زمینه کې چې په سیمه کې تر برید لاندې د راغلو افغان او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو د ملاتړ لپاره ترسره کیږي او یا په بله هره زمینه کې پر ودانیو د ترسره کیدونکو بریدونو لپاره موجوده تاکتیکي پروتوکولونه په بشپړ ډول بیا وګوري او غښتلي کړي.
- د هوايي او چاپېزو عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر تورنو وروسته د زیان د پراخو ډولونو د معلومولو د شفافیت د یقیني کولو، د عملیاتي کړنو بهتره کولو، احتساب ته د ودې ورکولو او له زیان د اغیزمن شویو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو، اغیزمن او چټکو جبرانونو د برابرولو د یقیني کولو په موخه تر عملیاتو وروسته بیا کتنې او څېړنې جاري وساتي.
- له افغان همکارانو سره د ملکي تلفاتو د پېښو د بیاکتنې هڅې غښتلې کړي کوم چې د ګډو عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي؛ د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د جګړې د زیان د ارزونو په ترسره کولو کې زیاته روزنه او مرسته برابره کړي؛ او په هغو پېښو کې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي له اغیزمن شویو ټولنو سره د هغوي د افغان شریکانو له لارې ګډون او ښکیلتیا زیاته کړي.
- د هغو وګړو  په نښه کولو پالیسي ګانو بیاکتنه، څوک چې نه په مستقیم ډول په دښمنیو کې ګډون کوي، او نه د کومې وسله والې ډلې لپاره جګړه ییز فعالیت تر سره کوي، څو نوموړې پالیسې ګانې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې شي.

### ***ب) غوڅ ملاتړ ماموریت***

افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په پالیسي، عملیاتي او تاکتیکي کچو د دوامدارو روزنو، سرچینو او اړوند ملاتړ د برابرولو له لارې د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ملي پالیسي په تطبیق کې د افغان دولت ملاتړ جاري وساتي، په ځانګړي ډول له غیر مستقیمو وسلو کارولو، چاودیدونکو وسلو چې پراخه سیمه اغیزمنه کوي او همدارنګه له جنګي الوتکو څخه ملکي وګړو ته د زیان اوښتلو د مخنیوي لپاره مخه نیوونکي تدابیر ترسره کړي.

# پای لیک

**1**- په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما ۱۰۹۹۴ ملکي تلفات (۳۸۰۳ مړه او ۷۱۹۱ ټپیان) تایید کړي.

**2**- دولت ضد عناصرو" کې طالبان او د عراق او شام د اسلامي دولت- خراسان ولایت ډله او نورې وسله والې ډلې چې په جګړه کې ښکیلې دي، یا د افغان دولت او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو په خلاف مخالفې وسله والې ډلې شاملې دي. *دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې او دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې* وګورئ. "

**3**- په "دولت پلوه ځواکونه" افغان ملي امنیتي ځواکونو او نورو هغو ځواکونو او ډلو ته ویل کیږي چې د بلواګرۍ ضد په نظامي یا نیمه نظامي عملیاتو کې فعالیت ترسره کوي او په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د افغان دولت تر کنټرول لاندې وي. د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د راپورونو په موخه، په دولت پلوه ځواکونو کې دولت پلوه وسله والې ډلې هم شاملې دي. *دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې او دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې* وګورئ.

**4**- په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما شپږ میاشتنې (جولای ۲۰۱۹) معلومات وګورئ، چې په لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

**5**- د ۲۰۱۹ کال د جولای له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما ۴۴۸۹ ملکي تلفات (۱۲۵۶ مړه او ۳۲۳۳ ټپیان) مستند کړي.

**6**- د ۲۰۱۹ د اکتوبر له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۱۹۳۰ ملکي تلفات (۷۲۵ مړه او ۱۲۰۵ ټپیان) مستند کړي چې د ۲۰۱۸ کال په ورته موده کې ۲۷۵۴ ملکي تلفات(۹۳۳ مړه او ۱۸۲۱ ټپیان) ثبت شوي.

**7**- په ۲۰۱۸ کې د ۳۶ بریدونو په پرتله چې د ۱۸۹۲ ملکي تلفاتو (۵۵۷ مړه او ۱۳۳۵ ټپیان) لامل شوي، په ۲۰۱۹ کال کې، د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ولایت ډلې اووه ځانمرګي او ډله یز بریدونه ترسره کړي، چې د ۴۵۵ ملکي تلفاتو (۱۸۳ مړه او ۲۷۲ ټپیان) لامل شوي او ۷۶ سلنه کموالی وړاندې کوي.

**8**- په ۲۰۱۸ کې د ۲۱ بریدونو په پرتله چې د ۶۴۲ ملکي تلفاتو (۲۱۶ مړه او ۴۲۶ ټپیان) لامل شوي، په ۲۰۱۹ کال کې، طالبانو ۲۹ ځانمرګي او ډله یز بریدونه ترسره کړي، چې د ۱۴۹۹ ملکي تلفاتو (۱۶۵ مړه او ۱۳۳۴ ټپیان) لامل شوي او ۱۳۳ سلنه زیاتوالی وړاندې کوي.

**9**- په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو د بریدونو له امله چې په عمدي ډول ملکي وګړو په نښه کړي ۲۸۳۲ ملکي تلفات (۸۱۷ مړه او ۲۰۱۵ ټپیان) مستند کړي.

**10**- د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور د *څلورمې (ب) (آي) هوایي بریدونه* برخه وګورئ.

**11**- په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د افغان هوایي ځواک له خوا د اپریل پر ۲ د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د هوایي برید له امله ۱۰۷ ملکي تلفات مستند کړي (د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۲ د کندز ولایت د دشت ارچي د هوایي برید په اړه د یوناما ځانګړی راپور (مۍ ۲۰۱۸) وګورئ، چې پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports). تر دغې یواځینۍ پېښې پرته به یوناما په ۲۰۱۹ کال د افغان هوایي ځواک له خوا په ملکي تلفاتو کې ۱۷ سلنه زیاتوالی مستند کړی و.

**12**- د مثال په ډول، په دې کې هغه اشخاص شامل دي څوک چې ښایي "مالیه" یا زکات راغونډ کړي، او دغه راز هغه اشخاص څوک چې ښایي د نا قانونه نشه يي توکو د پروسس کولو یا نورو وسیلو له لارې د دولت ضد عناصرو سره په مالي ملاتړ کې ښکیل وي. د یوناما ځانګړی راپور: د ۲۰۱۹ کال د مۍ پر ۵ په فراه ولایت کې د نشه يي توکو د پروسس پر شکمنو مرکزونو هوایي بریدونه (د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شو) وګورئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports .

**13**- د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمې ونډې اخیستنې په اړه د آی سي آر سي تفسیري لارښوونې، مۍ ۲۰۰۹، ۳۵-۳۲ مخونه.

**14**- د آی سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال قانون څېړنه، ۶ قاعده. د دغې موضوع اړوند د حقوقي شننې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د یوناما ځانګړی راپور: د ۲۰۱۹ کال د مۍ پر ۵ په فراه ولایت کې د نشه يي توکو د پروسس پر شکمنو مرکزونو هوایي بریدونه (د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شو) وګورئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

**15**- د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د عمومي منشي د ۲۰۱۹ کال د جون د ۲۹ راپو (A/73/907) تر لومړۍ ضمیمې لاندې لیست شوې خواوې وګورئ.

**16**- بچه بازي یوه مضره کړنه ده، چیرې چې هلکان د شتمنو یا ځواکمنو نارینه له خوا د ساعتیرۍ لپاره استثمار کیږي، په ځانګړي ډول د نڅا او جنسي فعالیتونو لپاره؛ دغه کړنه د جزا په تعدیل شوي قانون کې چې د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ کې نافذ شوی، جرم ګڼل شوی.

**17**- د جرم مرتکبین د دولت پلوه ځواکونو یا د دولت ضد عناصرو غړي نه وو.

**18**- د راپور ۴. ب. ۲: *ځانیزو عملیاتو برخه* وګورئ.

**19**- د فیصدي مجموعه د اعشاریه له امله کله د سلو څخه زیات او یا کم شي. چې نتیجه کې د سلنې د جوړولو په وخت ارقام د مجموعه فیصدي سره شاید یو ډول نه وي.

**20**- د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور ۵. د. *د پولې په اوږدو کې پېښو* برخه وګورئ.

**21**- په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۶۹۷۰ ملکي تلفات (۲۲۳۸ مړه او ۴۷۳۲ ټپیان) منسوب کړي.

**23**- د هغو پېښو له جملې چې طالبانو ته منسوب شوي، طالبانو په ښکاره د ۸۱ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي چې د ۱۷۱۲ ملکي تلفاتو (۲۰۴ مړه او ۱۵۰۸ ټپیان) لامل شوي.

**23**- د هغو پېښو له جملې چې د عراق او شام اسلامي دولت- د خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي، نومړې ډلې په ښکاره د ۵۰ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي (چې زیاتره يې ملکي وګړي په نښه کړي) چې د ۷۸۸ ملکي تلفاتو (۱۸۱ مړه او ۶۰۷ ټپیان) لامل شوي.

**24**- په ۲۰۱۸ کال کې، افغان ملي امنیتي ځواکونه د ۱۶۲۹ ملکی تلفاتو (۶۴۰ مړه او ۹۸۹ ټپیان) لامل شوي.

**25**- دا له ۲۰۱۸ کال سره هغه مهال پرتله شوي، کله چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو د هوایي بریدونو له امله ۱۰۱۳ ملکي تلفات (۵۳۴ مړه او ۴۷۹ ټپیان) ثبت کړل.

**26**- دا له ۲۰۱۸ کال سره هغه مهال پرتله شوي، کله چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو د ځانیزو عملیاتو بریدونو له امله ۳۵۳ ملکي تلفات (۲۸۴ مړه او ۶۹ ټپیان) ثبت کړل.